# پښتو ګرامر

(ناخپلواکو مورفيمونو ته تحليلي کتنه)

Ketabton.com

رياض مقامزی

(c) ketabton.com: The Digital Library

لـوړو زده کـــړو وزارت

ننـــګرهـــار پـوهـنـتـون

ژبـــو او ادبیاتو پوهنځی

پښتو ژبې او ادب څانګه

(د لیسانس دورې پایلیک)

# ناخپلواکو مورفیمونو ته تحلیلي کتنه

لیکونکی: ریاض الله مقامزی

لارښود استاد: پوهنوال دوکتور عزیزالله جبارخیل

ښوونیز کال: ۱۴۰۰ل.ل

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډالۍ

د شهيد استاد «پوهنمل ادم خان ملاتړ» سپېڅلي اروا ته!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د پیل خبرې

په علمي او اکاډمیک ژوند کې له یوې مرحلې بلې ته تګ یوه عادي چاره ده، خو دا هرڅه خپل اصول هم لري. د لیسانس په برخه کې د لوړو زده کړو وزارت د لایحې مطابق هر محصل اړ دی، چې د خپلې څلور کلنې دورې تر بشپړولو وروسته، له خپلو زده کړو د دفاع په موخه مونوګراف ولیکي.

ماته هم پښتو څانګې «ناخپلواکو مورفیمونو ته تحلیلي کتنه» تر عنوان لاندې موضوع د پوهنوال دوکتور عزیزالله جبارخېل تر لارښوونې لاندې د څېړنې لپاره را وسپارله. ما خپله نهایي هڅه وکړه، چې موضوع په ښه ډول شرحه او د درک وړ کړم؛ خو انسان کمزوری دی، له داسې مسایلو سره مخ کېدل حتمي دي، چې نه پرې پوهېږي. زه هم د څېړنې په لړ کې وخت نا وخت له ستونزو سره مخ شوم؛ مګر ډاډه په دې وم، چې د لارښود استاد شفقت او مهرباني راسره وه. وخت ناوخت یې ستونزې را حل او لازمې لارښوونې یې راته وکړې. د همدې همکارۍ او ډاډ پایله وه، چې اوس تاسو دا کرښې لولئ.

وخت د دې دی، چې د پښتو څانګې له ټولو قدرمنو استادانو په ځانګړې توګه له لارښود استاد، له خپلې مهربانې کورنۍ، زړه ته رانږدې ټولګیوالو او قدرمنو دوستانو څخه د زړه له تله مننه وکړم، چې ددې څلور کلنې دورې په بشپړولو کې یې راسره تر خپله وسه همکاري وکړه. رب دې ټول ښاد او آباد لري.

په درنښت

ریاض الله مقامزی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لنډيز

د پښتو ژبې په مورفولوژۍ کې (( ناخپلواک مورفيمونه)) د ګرامر يو کوچنی بحث جوړوي؛ خو د پښتو ژبې د ګرامر پر يوې ورې برخې يو څه ليکل هم خورا سخت کار دی. په ځانګه کې د موضوع له ټاکلو وروسته مې د ماخذونو لټه پيل کړه. ددې ورې رساله ګۍ د ليکلو لپاره مې شاوخوا دېرش کتابونه مطالعه کړل او له نږدې ((۲۰)) آثارو مې اخيستنې وکړې.

د پښتو ځانګې د ټولو استادانو او په ځانګړې توګه د لارښود استاد په همکارۍ وتوانېدم، خپل مونوګراف چمتو کړم. په دې ليکنه کې پر (ژبه او ژبپوهنه، مورفولوژۍ او ناخپلواکو مورفيمونو) مفصلې خبرې شوې دي.

وييکي، تاړي او همدارنګه سربلونه اوستربلونه ددې اثر اصلي موضوعات دي. چې هره يوه موضوع يې تر ځانګړي عنوان لاندې په مفصل او تحليلي شکل وړاندې شوې ده. په ټوله کې دا هڅه په پايلې، مناقشې، وړانديزونو او اخځليکونو پای مومي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک


| ګڼه | عنوان | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | سریزه | ۱ |
| ۲ | د څېړنې پوښتنې | ۲ |
| ۳ | د څېړنې فرضیه | ۲ |
| ۴ | د څېړنې موخې | ۲ |
| ۵ | د څېړنې اهمیت | ۲ |
| ۶ | د موضوع د ټاکلو علتونه | ۲ |
| ۷ | تېرو لیکنو ته کتنه | ۳ |
| ۸ | د څېړنې تګلاره | ۳ |
| ۹ | ژبه او ژبپوهنه | ۴ |
| ۱۰ | مورفولوژي (Morphology) | ۷ |
| ۱۱ | د مورفیم ډولونه | ۷ |
| ۱۲ | د ناخپلواک مورفیم ډولونه | ۹ |
| ۱۳ | وییکي | ۹ |
| ۱۴ | سربلونه او وستربلونه | ۱۶ |
| ۱۵ | د سربلونو ځینې ناسمې کارونې | ۲۵ |
| ۱۶ | تاړې او وندونه | ۲۸ |
| ۱۷ | پایله | ۴۲ |
| ۱۸ | مناقشه | ۴۳ |
| ۱۹ | وړاندیزونه | ۴۴ |
| ۲۰ | اخځلیکونه | ۴۵ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سریزه

زما د څېړنې موضوع د ګرامر (Grammar) اړوند ده. د ګرامر پېژندنه داسې کېږي، چې د یوې ژبې د ساختمان علمي شرحې او مطالعې ته پښتویه (ګرامر) وایي. فونولوژي، مورفولوژي او نحوه د یوې ژبې د ګرامر برخه جوړوي. زما څېړنه (نا خپلواک مورفیمونه) د مورفولوژۍ د بحث موضوع ده.

ناخپلواک مورفیمونه (Bound Morphemes) د ګرامر یوه ډېره وړه برخه تشکیلوي، خو خورا ضروري او مهمه ده. که څه هم مورفیمونه او په ځانګړې توګه ناخپواک مورفیمونه د یوې ژبې ترټولو کوچني مانیز واحدونه دي، خو ددې کوچنیو ژبنیو توکونو ناسم استعمال لویې معنوي نیمګړتیاوې پېښولای شي.

د موضوع ارزښت ته په کتو باید د پښتو ژبې هر لوستونکی د ګرامر پر دې موضوع برلاسی وي او باریکۍ یې وپېژني. په دې لیکنه کې پر ژبه او ژبپوهنه، مورفولوژۍ او په ځانګړې توګه پر ناخپلواکو مورفیمونو مفصلې خبرې شوي دي. همدارنګه د سربلونو ځینو ناسمو کارونو ته په کې نغوته (اشاره) شوې ده.

زما دا ناڅیزه هڅه به له لوستونکو او زده کړیالانو سره مرسته وکړي، چې د پښتو ژبې ناخپلواک مورفیمونه وپېژني او هم به یې پر سمه کارونه پوه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د څېړنې پوښتنې

۱. کومو مورفیمونو ته ناخپلواک مورفیمونه ویل کېږي؟

۲. د دې مورفیمونو ناسم کارول کومې معنوي نیمګړتیاوې پېښولای شي؟

## د څېړنې فرضیه

په اکثرو ګرامرونو کې د وییکو، سربلونو او تاړو یوه اړخ ته پام شوی دی. یعنې یوازې یې یوه دنده ویل شوې ده، خو زما په آند اکثریت وییکي او سربلونه یوازې یوه دنده نه لري. بلکې خینې یې څو مختلفې دندې ترسره کوي.

## د څېړنې موخې

۱. د ناخپلواکو مورفیمونو پېژندنه او تحلیل

۲. د یادو مورفیمونو د استعمال ځایونه تشریح کول

۳. د ناخپلواکو مورفیمونو د ناسم کارولو مخنیوی

## د څېړنې اهمیت

په ټوله کې مورفیمونه او په ځانګړې توګه ناخپلواک مورفیمونه د ژبې ترټولو کوچني مانیز توکي دي، مګر ددې کوچنیو توکو اهمیت ډېر لوړ دی. که د یوه پر ځای بل وییکی وکارول شي او یا هم له پامه وغورځول شي، نو په جمله کې یو ستر معنوي بدلون پېښوي. همدې ارزښت ته په کتو ما ددې موضوع څېړلو ته ملا وتړله.

## د موضوع د ټاکلو علتونه

یوویشتمه پېړۍ د سرعت او انټرنیټ پېړۍ ده. ګڼ شمېر خلک خپل آندونه، پوښتنې او ورته نور مسایل د فیسبوک او نورو ټولنیزو رسنیو له لارې شریکوي. وخت ناوخت به مې داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیکنې ولیدلې، چې د وییکو او یا هم سربلونو د ناسمې کارونې له امله به یې مفهوم ناسم لېږداوه. ما به پر هماغه موضوع لیکل وکړل او پر فیسبوک به مې خپاره کړل. خلکو په مینه لوستل. خو وروسته مې فکر وکړ، چې ولې دا موضوع د یو اثر او څېړنې په توګه نه وي؟ همداسې وشول. د مونوګراف په موضوعاتو کې مې همدا وټاکله، ترڅو ټول مقید مورفیمونه په بشپړ ډول شرحه او تحلیل کړم.

## تېرو لیکنو ته کتنه

د پښتو ژبې ګرامر ته په وروستیو لسیزو کې ډېر کار شوی دی. اوسني لیکوال هڅه کوي، چې د ژبپوهنې نویو تیوریو ته په کتو ګرامرونه وکښي. نوي مسایل شاربي. پښتو پښویه، پښتو ژبدود ، پښتو معاصر ګرامر او ورته نور کتابونه د مختلفو لیکوالو له خوا لیکل شوي دي.

د څېړنې په لړ کې مې ډېر ګرامرونه مطالعه کړل. خو په ځانګړې توګه پر ناخپلواکو مورفیمونو کوم اثر مې و نه موند. دا به په دې برخه کې لومړنی ګام وي. په دې هیله، چې نور لیکوال کوچني ژبني مسایل په ځانګړو رسالو کې وڅېړي.

## د څېړنې کړنلاره

څېړنه کتابتوني بڼه لري، چې له تشریحي او تحلیلي مېتوده په کې ګټه اخستل شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ژبه او ژبپوهنه

دا چې مورفیمونه په لویه کې د ژبپوهنې او په وروستیو کې د ګرامر د بحث موضوع ده، نو د ښه وضاحت او درک لپاره یې اړینه ده، چې پر ژبه، ژبپوهنه او ګرامر لنډې خبرې ولرو. هڅه کوم، چې د یادو اصطلاحاتو نږدې ټول منلي تعریفونه وړاندې کړم. تر هر څه لومړی باید ژبه وپېژنو.

## ژبه

"ژبه" په پښتو ژبه کې په دوو معناوو کارول کېږي. یوه ژبه د هاضمي سیستم برخه ده، چې په انګرېزي کې یې (Tongue) بولي. په دې معنا ژبه د غوښې یوه ټوټه ده، چې د خوند او ذایقې د معلومولو لپاره ترې ګټه اخیستل کېږي. مګر په بل مفهوم ((ژبه)) د افهام او تفهیم د وسیلې په توګه کارول کېږي، چې په انګلېسي کې ورته (Language) وایي. دلته له ژبې څخه زموږ موخه په دویمه معنا د ژبې پېژندنه ده. د ژبې د تعریف په اړه استاد حبیب الله تږی لیکي: ((ژبه په ساده عبارت سره د یو لړ وییزو غږونو نه جوړه ده، چې د "غږیز جهاز" په وسیله تولیدېږي او په غوږونو اورېدل کېږي.))

ددې لپاره چې موضوع د درک وړ وګرځي، یو بل تعریف هم وړاندې کوو. ژبه د اختیاري غږونو څخه جوړ شوی سیستم دی، چې د انسانانو ترمنځ د پوهولو او راپوهولو غوره وسیله ده. کله چې په تعریف کې د اختیاري غږونو خبره کېږي، دا په دې معنا چې غیر اختیاري او تقلیدي غږونه د ژبې برخه نه ده. لکه د طوطي او یا د شارو خبرې، چې په تقلیدي بڼه او په غیر اختیاري توګه کېږي. دا ډول خبرې او غږېدا د ژبې له پورتني تعریفه وځي. له بهترینې وسیلې څخه موخه دا ده، چې د افهام او تفهیم ځینې نورې لارې هم شته، لکه: ترافیکي اشارې او یا هم د انسانانو د بدن بېلابېل حرکات چې د بل د پوهولو سبب کېږي. مګر هغه د ((ژبې)) په څېر غوره نه دي.

ځکه په اشارو کې د خبرو په څېر د متکلم حالت نه څرګندېږي. په داسې حال کې چې په وینا کې د غږېدونکي کس حالت معلومولای شو، چې متکلم غوسه دی، خوښ دی او یا هم عادي حالت لري.


(c) ketabton.com: The Digital Library

## ژبپوهنه

ژبپوهنې ته په انګلیسي کې (Linguistics)، په عربۍ کې (علم اللغت) او په فارسۍ کې (زبانشناسي) وايي. د ژبپوهنې د تعریف په باب آغلې بشرى اکرام لیکلي: ((ژبپوهنه د دوو کلمو "ژبه" او "پوهنه" نه جوړه ده. د ژبې مطلب دی د وينا یا لیک په ذریعه خپل خیالات بل ته رسول او د "پوهنې" مطلب دی، علم یا پوهه یا سائنسي پوهه. خو ددې نه مراد د یوې مخصوصې ژبې علم یا پوهه نه ده، بلکې د نړۍ د ټولو ژبو یوه عمومي مطالعه ده.))

استاد مرهون وايي، ژبپوهنه هغه علم دی، چې د هغه په وسیلې ژبه، د ژبې څرنګوالی، جوړښت او بدلون او نور رنګارنګ ژبني مسایل د څېړنې لاندې نیول کېږي.

په لنډ ډول ویلی شو، ژبپوهنه هغه علم دی، چې راز راز ژبني مسایل څېړي. دغه پوهنه بیا په بېلابېلو برخو وېشل کېږي. په لاندې جدول کې یې وضاحت لیدلای شئ.




د ژبپوهنې د  پورتني ساختمان د ښه وضاحت لپاره به د ژبپوهنې د ټولو څانګو لنډ او ټولمنلي تعریفونه وړاندې کړو، چې موضوع په پوره ډول روښانه شي. ژبپوهنه په لومړي سر کې پر دوو لویو څانګو (نظري او تطبیقي) ژبپوهنو وېشل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### لومړی ـ نظري ژبپوهنه (Theoretical Linguistics)

د نظري ژبپوهنې د پېژندنې په باب ښاغلی میراجان غوربندی لیکي: ((د ژبپوهنې هغه څانګه ده، چې په هغه کې د علمي مشاهداتو پر بنسټ او د معاصرو علمي طریقو په مرسته، د ژبو په اړه حقایق، پرنسیپونه او عمومي تعریفونه څېړي.))

کولای شو په دې ډول ووایو، چې د ژبپوهنې دا څانګه د ژبنیو مسایلو لپاره بېلابېلې تیورۍ وړاندې کوي.

### دویم ـ تطبیقي ژبپوهنه (Applied Linguistics)

د ژبپوهنې دا څانګه د نظري ژبپوهنې په واسطه لاسته راغلې تیورۍ پر ژبې تطبیقوي. یا هم ویلای شو، چې هغه نظریې او معلومات چې د نورو ژبپوهنو په واسطه راټولېږي، هغه په یوه ژبه تطبیقوي.

لکه څنګه چې مو په جدول کې ولیدل، نظري ژبپوهنه (Theoretical Linguistics) بیا پخپله پر درېیو نورو څانګو وېشل کېږي.

### ۱. تاریخي ژبپوهنه (Historical Linguistics)

د تاریخي ژبپوهنې د پېژندنې په باب ویلای شو، چې د تاریخ په اوږدو کې یوې ژبې ته ورپېښ تحولات څېړي.

لکه: په کلاسیکو متونو کې ((هلک)) هر وړوکي، ځیز ته کارول کېده. خوشحال بابا د خپلو جنګونو د یادولو په سلسله کې وایي، د هلکو به یې څه ګڼمه شمار، مطلب دا چې کوچني جنګونه مې بېخي ډېر کړي دي. دلته ((کوچني، وړوکي)) په معنا راغلی. خو په اوس وخت کې یوازې نارینه ماشوم ته کارول کېږي. د تاریخي ژبپوهنې کار همدا دی، چې دې او دې ته ورته نور تحولات چې ژبې ته د تاریخ په اوږدو کې ورپېښ شوي وي، وڅېړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ۲. مقايسوي ژبپوهنه (Comparative Linguistics)

دا هم د نظري ژبپوهنې بله څانګه ده، چې د يوې ژبنۍ کورنۍ څو ژبې او يا هم د ژبو څو کورنۍ سره د پرتلې او مقايسې په ترڅ کې څېړي.

### ۳. تشريحي ژبپوهنه (Descriptive Linguistics)

د ژبپوهنې هغه څانګه ده، چې د تاريخ په يوې ځانګړې دوره کې د يوې ژبې جوړښت او نظام تشريح کوي.

يا هم ويلای شو، چې تشريحي ژبپوهنه د يوې ژبې تاريخي بدلون او له له بلې ژبې سره د مقايسې پرته د ژبې جوړښت او ساختمان په ټاکلې او مشخصه دوره کې تشريح کوي.

لکه څرنګه چې په جدول کې وينو، تشريحي ژبپوهنه خپله پر نورو څانګو وېشل کېږي. نو د موضوع د لنډون په پار يې د ټولو له شرحې تېرېږو. خو دومره بايد پوه شئ، چې له يادو څانګو يې درې (فونولوژي، مورفولوژي او نحوه) د ګرامر برخه ده. د ګرامر نږدې ټول منلی تعريف داسې دی، چې د يوې ژبې علمي مطالعې ته ګرامر وايي. دا چې زموږ د بحث موضوع په مورفولوژۍ پورې اړوند بېړي نو ښه ده، چې يو ځغلنده نظر ورته ولرو.

### مورفولوژي (Morphology)

مورفولوژي د تشريحي ژبپوهنې يوه اساسي څانګه ده. په پښتو کې ورته ګړپوهنه وايي، چې د يوې ټاکلې ژبې ګړيز او لغوي جوړښت، ترکيب څېړي.

يا هم په لنډ ډول ويلای شو، چې مورفولوژي د يوې ټاکلې ژبې مورفيمونه څېړي.

### د مورفيم ډولونه

وړاندې له دې چې د مورفيم پر ډولونو وغږېږو، اړينه ده، چې مورفيم وپېژنو. استاد نوراحمد شاکر مورفيم داسې راپېژني: ((د يوې ژبې په خبرو کې ښخي کوچنی صوتي واحد چه معنی ولري مورفيم بلل کېږي.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو ویلای شو، چې مورفیم په یوه ژبه کې تر ټولو کوچنی معنا لرونکی واحد دی. لکه: په، کتاب، تر، درمل، تون او ...

خو پوښتنه دا پیدا کېږي، چې (په او تر) خو په یوازې ځان معنا نه ورکوي، نو څنګه ویلای شو، چې مورفیم کوچنی مانیز واحد دی؟ په دې برخه کې باید یادونه وکړم، چې مورفیم تل لغوي معنا نه لري. کله ناکله پېښوییزه (ګرامري) مانا هم لېږدوي. ټول ناخپلواک مورفیمونه، یوازې او یوازې پېښوییزه (ګرامري) معنا لري.

مورفیم په دوه ډوله وېشل کېږي:

لومړی- خپلواک مورفیمونه

دویم- ناخپلواک مورفیمونه

خپلواک مورفیمونه هغه دي، چې په خپلواکه توګه معنا ولري. لکه غر، مېز، قلم، کتاب او ... دا داسې مورفیمونه دي، چې په ذکر سره یې زموږ په ذهن کې یو انځور جوړېږي. په پښتو ژبه کې پر دوو ډلو وېشل کېږي، چې نومېزه او فعلي ډله یې بولو.

بله خوا ناخپلواک مورفیمونه په وینا کې هغه وړې ټوټې دي، چې په خپلواک ډول د استعمال وړ نه وي. لکه د /کتابونه/ په ویي کې /کتاب/ یو خپلواک مورفیم دی. خو /ونه/ یو ناخپلواک مورفیم دی. که له /کتاب/ یا له نورو خپلواکو مورفیمونو سره یو ځای و نه کارول شي کومه معنا نه ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ناخپلواک مورفیم ډولونه

د پښتو ژبې په ګرامر کې د ناخپلواکو مورفیمونو په ډله کې ویيکي (Particles)، سربلونه او اوستربلونه (Prepositions and Post Prepositions) او تاړي (Affixes) مطالعه کېږي. چې په هر یوه به یې جلا بحث وشي.

## ویيکي (Particles)

د ویيکو په اړه استاد علاوالدین حسام لیکي: ((په ځانګړي ډول کومه ویيزه معنا نه لري، په غونډ او غونډله کې د مرستیالو توکونو په توګه راځي، چې مانا یې له نومونو، کړونو، کړولونو سره څرګندېږي.))

په لنډ ډول ویلای شو، چې ویيکي ناخپواک مورفیمونه دي، په ځانګړي توګه معنا نه ورکوي، خو په جمله کې له استعمال وروسته معنا ښندي. د ویيکو دنده دا ده، چې په جمله کې د کلمو ترمنځ ارتباط جوړ کړي.

ویيکي بېلا خپله بېلابېل ډولونه لري، چې په لاندې ډول شرحه کېږي.

۱. ارتباطي ادات (Conjunction)

ارتباطي ادات هغه دي، چې د جملې د بېلابېلو توکونو ترمنځ رابطه ټینګوي. دا ادوات دوه ډولونه لري. لومړی یې ساده دي، چې (هم، خو، چې او داسې نور) یې بېلګې دي. او دویم ډول یې په مرکبه توګه کارول کېږي. لکه: (څنګه چې، که څه هم، بیا هم او ...)

د موضوع د ښې روښانتیا لپاره هر یو ویيکی بېل بېل شرحه کوو.

"چې"

"چې" د نومونو او د یوې جملې د دوو برخو د وصلولو لپاره کارول کېږي. لکه:

-احمد چې محمود ته څه وویل، ما واورېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ ملالۍ چې راغله تاسو تللي وئ.

وینئ، چې په لومړي مثال کې یې دوه نومونه (احمد ، محمود) او په دویم کې یې د یوې جملې دوې برخې سره وصل کړي دي.

"هم"

دا ویېکی ددې لپاره کارول کېږي، کله چې یو څوک/څه د بل چا/څیز په څېر معرفي کېږي. لکه:

ـ ته هم د احمد په څېر یې.

ـ ستا قلم هم زما په شان دی.

البته که له دې دواړو جملو ((هم)) لرې شي، نو بیا هم معنا ښندي. خو په ((هم)) سره داسې څرګندېږي، چې له شخص یا څیز څخه کوم، څه ترسره شوي دي. مثلا، احمد ډېرې ګېلې کوي او مخاطب هم پر دې خبرې پوه دی. نو خپل مخاطب ته وايي، ته هم د احمد په څېر یې. مخاطب پرته له وضاحته پوهېږي، چې ډېرې ګیلې مې کړي. خو که هم لرې شي، وروسته وضاحت ته اړتیا ده. ترڅو مخاطب پوه شي، چې زما کوم څه د احمد په څېر دي. ځینې وختونه پرته له مقایسې هم کارول کېږي. مثلا: والله احمد هم ښه سړی دی. دلته "هم" یوازې عاطفي دنده لري. په مقابل کې یې بل کس یا څیز نشته.

استاد غضنفر د دوه ځلې هم (هم ـ هم) د استعمال په اړه لیکي: ((د هم ... هم په مرسته د متضادو معناوو جملې هم سره وصلېږي. لکه خوشحال بابا وايي: (هم مې ووژني په خپله هم په ما باندې ژړا کا.))

"خو"

دا ویېکی هم د ((او)) په څېر کلمې او جملې سره نښلوي. توپیر یې دا دی، چې ((او)) هغه کلمې یا جملې وصلوي چې معنوي تضاد و نه لري، مګر ((خو)) د ((او)) برعکس هغه برخې سره وصلوي چې ټکر ولري. په لاندې بېلګو کې یې وضاحت لیدلای شئ.

ـ محمود شتمن او سخي انسان دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ محمود ښېوزله خو ميله پاله سړی دی.

په پښتو جملو کې "خو" دوه دندې لري، چې يوه يې ګرامري او بله يې عاطفي ده. توپير يې دا دی، چې د ګرامري ((خو)) په لرې کولو سره په جمله کې نيمګړتيا پيښېږي، مګر د عاطفي ((خو)) په لرې کولو سره جمله نه نيمګړې کېږي. توپير يې په لاندې بېلګو کې وګورئ.

ـ احمد راغی خو ناوخته.

که له پورتنۍ جملې ((خو)) لرې کړو، جمله نيمګړې کېږي.

ـ ته خو پوهېږې، چې څومره راته ګران يې.

مګر که له دې وروستۍ جملې ((خو)) لرې شي جمله نه نيمګړې کېږي. يوازې په عاطفي خوا يې يو څه پيکه والی راتلای شي.

"بيا"

دا وييکی د عمل تکرار ښيي. لکه:

ـ احمد بيا ناکام شو.

په دې معنا چې احمد له دې ناکامۍ وړاندې هم يو ځل او يا هم څو وارې ناکام شوی دی. خو که له پورته جملې ((بيا)) لرې شي. نو داسې معنا ورکوي، چې د ناکامۍ يې لومړی ځل دی.

کله ناکله په اوسمهال کې پر يوه عمل د ټينګار لپاره د راتلونکي وخت احتمال هم پر همدې وييکي کېږي. لکه له يو چا غوښتنه کېږي، چې يو کار وکړي، هغه يې بل وخت د پرېښودلو خبره وکړي، نو ورته ويل کېږي:

ـ بيا څوک مړه او څوک ژوندي.

مطلب دا چې کار بايد اوس خلاص شي. همدارنګه ځينې وختونه د وروسته معنا هم ښندي. لکه يو څوک بوخت وي او ورته وويل شي: ((ډوډۍ وخوره.)) مګر د مخاطب ځواب دا وي، چې ((بيا يې خورم.)) دلته موخه دا نه ده، چې دويم ځل ډوډۍ خورم. بلکې متکلم وايي، چې وروسته يې خورم. يا دا چې کله کار خلاص شي او اوزګار شم نو خورم يې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

"بلکې"

دا هم یو اړیکوییکی دی. اصلا د یو چا د ادعا غلط ثابتولو لپاره کارول کېږي. مثلا یو څوک تاسو ملامت بولي. ورته وایئ:

ـ زه نه بلکې ته ملامت یې.

یا وایئ، زه نه بلکې هغه دلته راغلی و.

"نو"

دا یو لاملي اړیکوییکی دی. د یوې چارې د ترسره کولو علت ښیي. لکه:

ـ که احمد راغی نو زه ځم. د خپلو تلو لامل د احمد راتګ بولي.

کله ناکله د تمسخر او د یو چا په اړه د منفي نظر څرګندولو لپاره هم ترې استفاده کېږي. مثلا، یو څوک خپل صفت کوي او ورته ویل کېږي.

ـ نو ته دومره ښه سړی یې!؟ یا نو هغه دومره ښه سړی دی؟

له داسې خبرو موخه دا وي، چې متکلم د ذکر شوي کس په اړه منفي فکر او برداشت لري.

"ځکه"

دا هم د «نو» په څېر لاملي وییکی دی. د یوه کار د ترسره کېدو لامل او علت ښیي. لکه:

ـ احمد راباندې زېری وکړ، ځکه خوښ یم.

د خپلې خوښۍ د علت بیانولو لپاره له «ځکه» څخه استفاده شوې ده. یا یو څوک په ښه خوراک لیدل کېږي. ورته ویل کېږي.

ـ ځکه ورځ تر بلې چاغېږي. په دې بېلګه کې د چاغېدو علت او لامل څرګندوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

"همدارنګه"

دا هم یو تړوییکی دی، چې یو شخص/څیز د نورو صفاتو، عیبونو او یا هم ځانګړنو د اضافه کولو لپاره کارول کېږي. لکه:

- احمد ښه سړی دی. ډېر سخي انسان دی. همدارنګه عمرې ته هم ډېر ځي.

کېدای شي همدا پورته ذکر شوي صفات عیبونه هم وي. یا ځینې وخت د ځانګړنو ترمنځ د ارتباط لپاره هم استعمالېږي. لکه:

- تکې سرې او خوږې منې وې. همدارنګه ډېرې غټې هم وې.

(او (و)، که، یا) دا په اکثرو ګرامرونو کې د عطف ویيکي تر عنوان لاندې تشریح شوي دي. خو که څیر شو، له ارتباطي (اړیکوییکو) سره هېڅ توپیر نه لري. نو غوره بولم، چې همدلته د اړیکوییکو تر عنوان لاندې یې شرحه کړم.

"او، و"

دا یو ډېر کارېدونکی اړیکوییکی دی، چې جملې او کلمې سره وصلوي. مثلاً:

- کاکا او ماما.

- تاړي تل ګرامري معنا لري او په ځانګړې توګه نه تصرفېږي.

د (و) په برخه کې به ووایم، چې همدا (او) دی. سره توپیر نه لري. یوازې د کلمو ترمنځ د بېواک غږونو د ډېر تکرار له امله ترې (ا) غورځي او (و) پاتې کېږي. مثلاً:

- مور و پلار

- سور و زېړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

"که"

دا ادات ((اړوییکی)) بلل کېږي. اړ په پښتو کې (شرط) ته وايي. یعنې د شرط ټینګولو لپاره استعمالېږي. لکه:

- که ته راشې نو زه هم درځم.

که بېلګې ته ځیر شو، نو د ((که)) په مرسته یو قید او شرط ایښودل شوی دی.

"یا"

په دې وییکي سره د دوو ځیزونو د انتخاب او یا هم د دوو کارونو ترمنځ د احتمال خبره کېږي. مثلاً کوم څوک چای غواړي. ترې پوښتل کېږي:

- تور یا شین؟

کله ناکله د یو کار احتمال هم ښيي. د احتمال د ښودلو لپاره لاندې بېلګې ته ځیر شئ.

- احمد به یا راشي او یا نه!

۲. تشبیهي ادات

هغه وییکي دي، چې د دوو یا زیاتو شیانو ورته والی ښيي. لکه: ورته، په څېر، غوندې، په دود، په توګه، په ډول، په راز او ... په لاندې بېلګو کې یې وضاحت لیدلای شئ.

احمد د غر غوندې انسان و.

ملالۍ د مریم په څېر ده.

۳. د اضافت ادات

د اضافت ادات هغه دي، چې د ملکیت ښودلو لپاره کارېږي. یا په بل عبارت یو ځیز/څوک په یو بل شي/چا پورې اړوندوي. په پښتو ژبه کې یوازې یو د اضافت وییکی لرو، چې ((د)) دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**.د احمد قلم.**

په پورته بېلګه کې د ((د)) په مرسته قلم د احمد ملکیت وګرځېد.

د ((د)) په هکله باید یادونه وکړم، چې ځینې وخت د سربل دنده هم ترسره کوي، چې د سربلونو په برخه کې به پرې مفصلې خبرې وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سربلونه او اوستربلونه

د سربلونو په اړه استاد ابراهیم همکار لیکي:((سربلونه د غونډلې (جملې) د مرستیالو رغندو توکونو په توګه له خپلواکو یا آرو ټوکونو (نومونو) سره کړولونه (قیدونه) جوړوي، داسې چې سربل تر نوم مخکې او وستربل تر نوم وروسته راځي.))

د لا وضاحت لپاره یې ویلای شو، چې سربلونه تر نوم، ضمیر او صفت) د مخه او وستربلونه ترې وروسته راځي.

په دې بېلګو کې د سربلونو او او اوستربلونو توپیر لیدلای شئ.

- په پسرلي کې هوا ښه وي.

- له لمانځه سره مینه ولرئ.

په پورته بېلګو کې (په، له) سربلونه او (کې، سره) اوستربلونه دي.

په پښتو ژبه کې اوستربلونه درې ډولونه لري، چې عبارت دي له:

- نا ترکیبي (یووستوي) اوستربلونه: دا هغه اوستربلونه دي، چې په یوازې بڼه استعمالېږي. لکه: کې، پورې، باندې، وروسته او ...

- اشتقاقي (ترکیبي) وستربلونه: په دې ډله کې هغه اوستربلونه راځي، چې په ترکیبي بڼه څرګندېږي. لکه: سره ـ سره، له پاره، له مخې او ...

- بدل (درغلي) وستربلونه: ددې اوستربلونو ځانګړنه دا ده، چې له (نومونو ـ صفتونو) سره یو ځای کېږي او نوی اوستربل جوړوي. لکه: په ګډون، په مینه او ...

باید هېره نه کړو، چې د اوستربلونو یو ځای لیکل ګرامري او معنوي ګډوډي پېښولای شي، نو باید هڅه وشي، چې بېل ولیکل شي. دا چې موضوع لاروښانه شي، نو ښه ده، چې هر یو سربل له خپلو اوستربلونو سره بېل ـ بېل شرحه شي.

په دې برخه کې به هر سربل ورسره له کارېدونکو اوستربلونو شرحه شي. باید ووایم، چې ځینې سربلونه په مقابل کې ډېر اوستربلونه لري او ځینې نور بیا کم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

"په"

دا سربل له (کې، سره، پسې او پورې) اوستربلونو سره راځي. په انګلېسي ژبه کې یې معادل (In) دی. دنده یې له هر اوستربل سره توپیر پیدا کوي. نو اړینه ده، چې له هر اوستربل سره یې ځینې بېلګو او دندو ته تم شو.

"په .... کې"

((په)) له ((کې)) اوستربل سره ظرفي حالت څرګندوي. لکه:

- په منګي کې اوبه شته. په پورتنۍ بېلګه کې ((منګی)) د ((په او کې)) په مرسته ظرفي حالت غوره کړ. همدارنګه د موقعیت ښودلو لپاره هم په کار وړل کېږي. لکه:

- په ښار کې یم. په امریکا کې یم او ...

"په .... سره"

له ((سره)) سره الیت ښیي. لکه:

- په لور سره یې وربېه.

دلته د ((په او سره)) په مرسته لور اله وګرځېده. خو باید یادونه وکړم، چې ((سره)) غورځېدای هم شي. لکه پورتنۍ بېلګه په داسې بڼه هم ویل/لیکل کېږي: ((په لور یې وربېه.))

"په .... پسې"

له دې ورهاخوا ((په)) له ((پسې)) اوستربل سره هم راځي، چې په دې حالت کې پرله پسې والی ښیي. لکه:

- په تا پسې مې نوبت دی.

یا هم کله ناکله علت ښیي. لکه:

- په احمد پسې مې وژړل.

دلته د ژړا علت څرګندوي. البته داسې هم ویلای شو، چې مفعول ترې څرګند یږي. ځکه چې دلته "احمد" مفعول دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

"په .... پورې"

((په)) له ((پورې)) سره مفعول څرګندوي. لکه:

- په احمد پورې مې وخندل.

یا په پوښتنیز ډول ویلای شو، په چا پورې خاندې؟

"پر"

یو باندینی (استعلایي) سربل دی، چې اړوند اوستربل (باندې) یې زیاتره وخت حذف کېدای هم شي.ددې سربل معادل په انګلېسي ژبه کې (On) دی. ((پر)) په ټوله کې له دوو اوستربلونو ((باندې او سربېره)) سره راځي.

"پر.... باندې"

په دې حالت کې استعلایي حالت ښیي. له استعلایي حالت څخه موخه، پر یو څه د بل ځیز بره والی دی. مثلا:

- کمپیوټر پر مېز باندې پروت دی.

د ((پر)) په مرسته اورېدونکی پوهېږي، چې کمپیوټر د مېز له پاسه دی. البته په پورته بېلګه کې اکثرا ((باندې)) حذفېږي. په عام ډول داسې ویل کېږي: (کمپیوټر پر مېز پروت دی.)) کله ناکله له باندې سره استعلایي حالت نه ښیي. لکه:

- پر وخت راشه!

په پورتنۍ جمله کې بره والی نه ښیي، بلکې ټینګار څرګندوي.

"پر.... سربېره"

له ((سربېره)) سره اضافت (زیاتونه) کېږي. مثلا: پر خوراک سربېره څښاک هم کوي. له جملې معلومېږي، چې خوراک معمول دی. خو څښاک هم ورسره اضافه کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

"د"

د وییکو په برخه کې مو ((د)) د اضافت وییکی یاد کړ. خو دلته به یې د یو سربل په توګه وپېژنو. دا یو ډېر پېښنی اضافي یا ملکي سربل دی. له (غوندې، لپاره، کره، له پاسه، له مخې) سره راځي. کله ناکله پرته له اوستربله هم کارېږي.

"د..... صفر"

په دې حالت کې چې اوستربل ورسره مل نه وي، یو نصیحت او یا عادي وینا کېږي. لکه: د میلمه درناوی پکار دی. همداسې ورته نورې بېلګې موندلای شو.

"د..... له پاسه"

که "د" له "له پاسه" سره راشي، نو بره والی (استعلا) ښیي. لکه:

- د مېز له پاسه پروت.

هېره دې نه وي، چې اکثره وخت ددې ((د)) پر ځای له (پر) څخه استفاده کېږي. داسې ویل کېږي: پر مېز پروت دی.

"د .... له مخې"

په دې حالت کې اکثراً وخت څرګندېږي. لکه: د ورځې له مخې خوب کوم. یا د منډې له مخې راشه! (سم د لاسه راشه!). کله ناکله د علت او دلیل راوړلو لپاره هم کارېږي. لکه: وایو، د قانون له مخې ملامت یې. (د قانون پر بنسټ ملامت یې)

"د .... کره"

کله چې ((د)) سربل له له ((کره)) اوستربل سره سره یو ځای راشي، نو په دې حالت کې کوربه تړې څرګندېږي. لکه:

د احمد کره یم.

له پورتنۍ جملې موخه دا ده، چې احمد کوربه دی. یعنې د احمد په کور کې یم.

"د .... غوندې"

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې حالت کې ورته والی څرګندوی. لکه: د احمد غوندې تکړه دی. کله ناکله د مثال راوړلو لپاره هم کاروو. مثلاً، د بلال غوندې لایق انسان مې نه دی لیدلی. یا وایو، د مزدور غوندې یې وګټه او د خان غوندې یې وخوره!

((د ..... لپاره))

له ((لپاره)) سره د اړوند څیز/پدیدې په اړه وضاحت او خبرې کولو لپاره کارېږي. مثلاً:

- د چکر لپاره ښه موسم پسرلی دی.

یا،

- د چکر لپاره وخت نشته.

"تر"

دا تقریبا د ((پر)) معکوسه مانا ښندي. لکه: پر مېز باندې، خو که ((تر)) راشي نو حتما به یې په مقابل کې ((لاندې)) راځي. لکه: تر مېز لاندې. خو یوازې له دې سره هم نه راځي. له (پورې، وروسته، څخه، پرته، دننه، د باندې) اوستربلونو سره هم راځي. چې په هر یوه کې یې دنده لږ او ډېر توپیر پیدا کوي. هر یو به یې بېل-بېل شرحه شي.

" تر .... لاندې"

دا سربل او اوستربل په ګډه د یو څه لاندې والی ښیي. لکه:

- د ریاضي کتاب تر مېز لاندې پروت دی.

د ((تر)) په مرسته مخاطب پوه شو، چې کتاب باید تر مېز لاندې وګوري.

" تر .... وروسته"

د یو کس یا حالت وروسته والی یا نوبت ښیي. لکه:

- تر احمد وروسته ته لاړ شه!

ځینې وختونه د فعل یا عمل د ترسره کولو وخت ښیي. لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ تر غرمې وروسته کور ته ځم.

" تر .... څخه، نه، ه"

د یو کس یا څیز ارزښت له بل څخه لوړ ښودلو لپاره کارول کېږي. لکه:

ـ تر تا څخه ثریا تکړه ده. مروجه بڼه یې داسې ده: ((تر تا ثریا تکړه ده.)) یعنې ((څخه)) ځنې حذف کېږي. یا وایو:

ـ تر ځوزه ګل ښه دی.

" تر .... باندې"

ددې دواړو په مرسته ځای او موقعیت څرګندېږي. لکه:

ـ تر کور د باندې ولاړ دی.

" له"

دا سربل په اصل کې د نوم منشایي حالت او د ملګرتیا جاج ښودلو لپاره کارول کېږي. همدارنګه که له ((وروسته)) اوستربل سره راشي مهالي قید جوړوي. دا سربل له ((سره، پرته، راهیسې، په هیسې، وروسته، سره، سره ـ سره او څخه) سره کارېږي. د لاوضاحت لپاره به یې په هر یوه بېل ـ بېل لنډې خبرې ولرو.

"له .... سره"

دوه کسه یا څیزونه سره ملګري کوي: لکه:

ـ له احمد سره ځم.

ـ له کتابچې سره قلم هم ضروري وي.

په دواړو بېلګو کې د سربل او اوستربل په مرسته څیزونه او کسان سره ملګري شوي دي.

"له ..... سره ـ سره"

دا سربل او اوستربل د یو غیر عادي کار ښودنه کوي. لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ له ناروغۍ سره سره ښوونځي ته لاړم. عادي کار خو دا دی، چې باید د ناروغۍ په ورځ رخصت وشي، مګر دلته دا عادي توب مات شوی.

"له ...... په هیسې"

په راتلونکي کې د یوه کار د ترسره کولو په اړه خبر ورکوي. لکه:

ـ له سبا په هیسې جومات ته ځم.

همدا رنګه د خپل وروستي ځای او وروستي ملاقات ښودلو لپاره کارول کېږي. لکه:

ـ له پېښوره په هیسې نه یم تللی. / (له پېښور ورهاخوا نه یم تللی.)

ـ له تېر کال په هیسې مې نه دی لیدلی.

"له .... راهیسې"

د یوه کار وروستي وخت او یا هم د پیل وخت څرګندولو لپاره استعمالېږي. لکه:

ـ له تېر کال راهیسې ښار ته نه یم تللی.

ـ له یوې میاشتې راهیسې دلته کار کوم.

که بېلګو ته ځیر شئ، نو وینئ چې په لومړي مثال کې د خپل کار وروستی ځل او وخت ښیي، مګر په دویمه بېلګه کې بیا د کار د پیل وخت څرګندوي.

"له .... پرته"

په یوه کار کې د یو څه یا څیز د اضافه کولو لپاره استعمالېږي. البته دویم اضافه کېدونکی شخص/څیز په اړه مخاطب نه وي خبر. لکه:

ـ له تا پرته نور ډېر خلک هم راځي.

ـ له کتاب پرته قلمونه هم په کې دي.

په لومړي مثال کې مخاطب د خپل ځان په اړه خبر وي، چې هلته به ځي. مګر متکلم ورته د نورو کسانو په اړه هم خبر ورکوي. په دویمه بېلګه کې هم مخاطب د لومړي توک (کتاب) په اړه پوهېږي، خو د قلمونو په اړه معلومات نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

"له .... وروسته"

د یوې مودې او مهال د څرګندولو لپاره کارول کېږي. لکه:

۔له څلورو ورځو وروسته روغ شو.

۔له غرمې وروسته کار نه کوم.

په لومړۍ بېلګه کې د ناروغۍ موده څرګندېږي. مګر په دویمه بېلګه کې بیا د وخت او مهال په اړه څرګندونه موجوده ده.

"له .... څخه"

په دې حالت کې مفعول څرګندېږي. لکه:

۔له کتابچې څخه مې پاڼه وشکوله.

۔له احمد څخه مې پیسې پور کړې.

په پورته بېلګو کې احمد او کتابچه دواړه مفعول دي. البته باید یادونه وکړم، چې په وینا کې اکثره پورتنۍ ((له)) حذفېږي هم. پورته بېلګې په دې ډول هم ویل کېږي:

۔کتابچې څخه مې پاڼه وشکوله.

۔احمد څخه (نه) مې پیسې پور کړې.

"بې"

که څه هم دا له آره یو مختاړی دی. مګر کله چې له ((له)) سره راشي، نو یو سربل جوړوي. باید ووایم، چې دا سربل یوازې له (څخه، نه، ځنې) سره راځي. چې تقریبا ټوله په یوه معنا دي. په لاندې بېلګه کې یې وضاحت لیدلای شئ.

۔بې له اوبو څخه ژوندون ګران دی.

په دې بېلګه د ((څخه)) پر ځای د ((نه او ځنې)) الفاظ هم کارولی شو. کله: بې له اوبو (څخه، نه، ځنې) ژوندون ګران دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

"و"

دا یو پخوانی سربل دی، چې له ته اوستربل سره راځي. د (ته) پر ځای (له او لره) هم کارول کېږي. چې د (ته) په څېر مفهوم افاده کوي. لکه: و تا ته وخت نه لرم. همدا جمله په دې شکل هم لیکل کېږي: (و تا له وخت نه لرم. یا، و تا لره وخت نه لرم.) باید یادونه وکړم، چې دا سربل اوس له معیاره لویدلی دی.تقریبا نه کارول کېږي.

کولای شو پورتنۍ جمله د (تاله وخت نه لرم.) یا (تا ته وخت نه لرم.) په شکل هم ووایو، چې ((و)) په کې نه دی کارېدلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د سربلونو ځینې ناسمې کارونې

د سربلونو ناسمه کارونه په اکثرو ځایونو کې معنوي بدلون پېښولای شي، نو پر همدې اساس باید جدي پام ورته وشي. که څه هم د ټولو سربلونو او وستربلونو شرحه شوې، خو بیا هم د ځینو ناسم استعمال ته باید اشاره وشي.

"په" او "پر"

دواړه سربلونه دي؛ اکثره خلک یې ناسم کاروي. ددې دواړو په اړه په مخکنیو پاڼو کې ډېرې خبرې شوې دي. خو په لنډ ډول به یې ووایم، چې "په" د ظرفیت او الیت ښودلو لپاره کارول کېږي. لکه:

- په ګیلاس کې اوبه شته.

- په اره یې پرې کړ.

په لومړي مثال کې د "په" په مرسته "ګیلاس" ظرف شو او په دویم کې "اره" اله شوه. نو ویلای شو، چې "په" په لومړۍ بېلګه کې د "ظرفیت" او په دویمه کې د "الیت" دنده ترسره کړه.

خو "پر" بیا استعلایي حالت ښیي، یعنې د بره والي ښودنه کوي. لکه:

- کتاب پر مېز پروت دی.

د "پر" په مرسته موږ مخاطب ته څرګنده کړه، چې کتاب د مېز له پاسه دی، بله خوا مه پسې سر خوږوه.

باید یادونه وکړم، چې د "په" او "پر" ناسمه کارونه، د متکلم/لیکونکي مفهوم بېخي بدل هم کړي. لکه:

- پر پښتو غږېږم.

- په پښتو غږېږم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لومړي مثال مفهوم دا دی، چې د خبرو سوژه (موضوع) مې پښتو ده، د غږېدا ژبه ممکن پښتو، انګلیسي، عربي یا بله هره ژبه وي. مګر د دویم مثال موخه دا ده، چې د غږېدا ژبه مې پښتو ده. موضوع معلومه ده، چې پر څه غږېږي.

"له" او "د"

اکثره خلک د "له" پر ځای "د" لیکي. د دواړو کارول خپل ځایونه لري. "له" سربل دی او "د" هم سربل دی او هم د اضافت وییکی (توری). موضوع اوږده ده، خو په لنډ ډول یې ویلای شو، چې د ملکیت په وخت کې "د" وکاوریځ. لکه:

- د احمد کتاب.

په پورتنۍ بېلګه کې د "د" په مرسته "کتاب" د "احمد" ملکیت شو. له دې پرته په سربلي حالاتو کې باید "له" وکارول شي. لکه:

- له احمد سره وغږېدم.

- له احمد څخه مې کتاب واخیست. او ..

په لاندې شکل د پورتنیو جملو لیکل په ګرامري لحاظ ناسم دي.

- د احمد سره وغږېدم.

- د احمد څخه مې کتاب واخیست.

یادونه: ((د)) کله ناکله سربلي حالت هم لري او ملکیت نه ښیي، مثلاً:

- د احمد په شان تکړه شه!

"تر" او "له"

دواړه سربلونه دي. ناسمه کارونه یې په جملو کې معنوي بدلون پېښولای شي. دې دوو بېلګو ته ځیر شئ.

- له تا ډېر وېرېږم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ تر تا ډېر وېرېږم.

په لومړۍ بېلګه کې له مخاطب څخه د وېرې خبره کېږي. مثلا یو څوک وایي: له زمري څخه ډېر وېرېږم. هېره دې نه وي، چې ددې جملې اصلي بڼه "له تا (څخه) ډېر وېرېږم." ده. مګر د لنډون په موخه "څخه" ترې حذف شوې. په دویم مثال کې د وېرې کچه مقایسه شوې. یعنې مخاطب ته وایي، چې تر تا ډېر ډارن یم.

"د ـ تر"

دا دواړه هم سربلونه دي. ځینې خلک یې ناسم کاروي. دا چې په مخکینیو پاڼو کې یې شرحه په بشپړ ډول شوې ده، نو له تکرار څخه ډډه کوم. دلته یې د ناسم استعمال یوه بېلګه وړاندې کوم.

ـ د مېز لاندې دی.

ځینې خلک په پورته ډول جملې لیکي، چې د پښتو ګرامر دا حالت نه ایجابوي، سمه بڼه یې په لاندې ډول ده.

ـ کتاب تر مېز لاندې پروت دی.

نو که پورته واړه سربلونه ناسم وکارول شي، لوی معنوي بدلون پېښولای شي، چې باید په لیکنو کې پوره پام ورته وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تاړي او وندونه

لکه د نورو ګرامري موضوعاتو د تاړو په برخه کې هم ژبپوهانو بېلابېل نظرونه وړاندې کړي دي. پوهاند صديق الله رښتين په "پښتو ګرامر" کې د تاړو په هکله د "سرينه او پسينه ادوات" تر عنوان لاندې بحث کړی دی؛ نوموړی ليکي: "سرينه او پسينه (لاحقو او سابقو" ادوات هغه دي، چې له نوم يا صفت سره يو ځای کېږي، يوه نوې معنا افاده کوي او د يوې ځانله کلمې بڼه غوره کوي."

څېړونکی سيد محي الدين هاشمي د تاړو په اړه ليکي دا کرښې کاږي: "هغه تړلي يا ناخپلواکې کلمې (مورفيمونه) دي، چې د خپلواکو له سر او پای سره د يو ځای کېدو په نتيجه کې نوې معنا او مفهوم ترلاسه کوي."

که پورته تعريفونو ته ځير شو، نو ډېر څه په کې مشترک دي. کولای شو په تفصيلي ډول ووايو، چې تاړي هغه تړلي (ناخپلواک) مورفيمونه دي، چې خپله ځانګړې معنا نه لري، خو له خپلواکو مورفيمونو سره يو ځايوالي او پيوستون په صورت کې يې معنی او مفهوم څرګندېږي. د دغو تاړو په يوځای کېدو سره چې د آزادو مورفيمونو څخه د مخه يا وروسته په تړلي شکل راځي، کلمې نوي مفهومونه او معناوې پيدا کوي. يعنې د يو تاړي په نښلونې سره يو ازاد مورفيم يا کلمه يوه نوې جوله (شکل) او معنی پيدا کوي، همدارنګه يو مشتق منځ ته راوړي. لکه کور سره چې (نۍ) يو ځای شي (کورنۍ) او که له (کتاب) سره (چه) يو ځای شي (کتابچه) مشتق وييونه ورڅخه جوړېږي.

## د تاړو ډولونه

ګرامر ليکونکي د تاړو د ډولونو په برخه کې په يوه خوله نه دي؛ ځينې يې په دوو او ځينې نور يې بيا په درېيو ډولونو وېشي. سيد محی الدين هاشمي په خپل کتاب "د پښتو ژبې لنډ ګرامر" کې د تاړو د ډولونو په اړه ليکي: "تاړي په دوو ډلو (مختاړو، وروستاړو) وېشل کېږي، چې هره ډله يې د خپلو ځانګړنو درلودونکې ده."

پوهاند صديق الله رښتين هم له نوموړي سره هم نظره دی. هغه ليکي: "دغه يو ځای کېدونکي ادوات په دوو سترو ډلو وېشل کېږي."

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو ځینې نور ګرامر لیکونکي په دې نظر دي، چې د پښتو ژبې تاړي په دریو ډلو وېشل کېږي. استاد محبوب شاه محبوب د تاړو په اړه وايي: "تاړي تل ګرامري معنا لري، او په ځانګړي ډول د تصریفېدو قابلیت نه لري، تل د خپلواکو مورفیمو سر، منځ او پای پورې نښتي وي او نوې معنا رامنځته کوي.

نو پر همدې اساس ویلای شو، چې د پښتو ژبې تاړي یا وندونه په لومړي سر کې پر دریو لویو ډلو وېشل کېږي:

## ۱- مختاړي – (Prefixes)

د مختاړو په پېژندنه کې هم بېلابېل تعریفونه وړاندې شوي دي. پوهاند خویشکی د مختاړو پېژندنه داسې کوي: "هغو تاړو ته ویل کېږي، چې د کلمې په سر پورې نښلي او د نورو تاړو غوندې له نوي شکل او مانا سره نوی مشتق رامنځ ته کوي."

د لا وضاحت لپاره ویلای شو، چې دغه نا خپلواک یا تړلي مورفیم ته په پښتو کې مختاړی، په فارسۍ- دري کې پېشوند، په عربي کې سابقه او په انګلېسي ژبه کې (Prefix) وايي. تل د کلمو یا د خپلواکو مورفیمونو مخې ته پیوست راځي او د هغوی معنی ته بدلون ورکوي. لکه:

۱- محمود یو بې ضرره هلک دی.

۲- ناپوهي د بېکارۍ سبب کېږي.

۳- جهالت یو بې درمانه رنځ دی.

په ذکر شوو جملو کې د (بې ضرره، ناپوهي، بېکاري، بې درمان) په کلمو کې مختاړي راغلي دي، چې د (بې ضرره) په کلمه کې (بې)، د بېکارۍ په کلمه کې (بې)، د ناپوهۍ په کلمه کې (نا) او د (بې درمانه) په کلمه کې (بې) مختاړي راغلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو ژبې مختاړي په عمومي ډول په درېيو ډلګيو وېشل کېږي.

## الف: د نفي او نهي مختاړي

دغو متخاړو په راوړلو سره د کلمې په معنا او شکل دواړو کې تغیر رامنځته کېږي. باید یادونه وکړم، چې دغه مختاړي د فعلونو سر ته راځي او د فعل معنا ته تغیر ورکوي.

په لږ ډېر وضاحت سره ویلای شو، چې د دغو مختاړو په نښلولو سره منفي صفات، د فعل امر او نفي جوړېږي. لکه:

اول ـ مه (نهي):

ـ مه پاڅېږه!

ـ مه خوره!

ـ مه کښېنئ!

ـ مه څښه!

ـ مه ګوره!

دویم ـ نه (نفي):

ـ نه کښېني

ـ نه راځي

ـ نه خوري

## ب: د مطلقیت مختاړی

په پښتو ژبه کې د مطلقیت مختاړی یوازې "و" دی. کله چې دغه مختاړی له فعلونو سره ونښلي، نو د زمانې له پلوه فعل له استمراري ماضي څخه د مطلق ماضي شکل ته اوړي. په دې برخه کې ډېرې بېلګې موندلای شو. د مثال په توګه یې ځینو ته نغوته کوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

| استمراري ماضي | مطلق ماضي |
| --- | --- |
| ـ ما مڼه خوړه. | ما مڼه وخوړه. |
| ـ ما کتاب اخیسته. | ما کتاب واخیست. |

که بېلګو ته ځیر شو، نو وینو چې فعل د ((و)) په مرسته له استمرار څخه مطلق ماضي ته اوړي. یعنې هغه فعل چې په تېر مهال کې یې جریان درلود، د ((و)) په زیاتولو سره پای مومي.

## ج: کلمه جوړونکي مختاړي

کله چې له کلمو سره دا ډول مختاړي ونښلي، یوه نوې معنا او مشتق جوړوي. لکه: ناروغ. په دې کلمه کې (نا) مختاړی دی. چې د همدې په مرسته له "روغ" څخه "ناروغ" کلمه جوړه شوه.

د کلمه جوړونکو مختاړو شمېر زیات دی. په دې برخه کې له هر مختاړي سره ځینې بېلګې هم وړاندې کوو، ترڅو ګڼ کلمه جوړونکي مختاړي وپېژنئ.

ـ بې: بې عقل، بې شعور او ...

ـ نا: ناروغ، نابلد او ...

ـ هم: هم سفر، هم فکره او ...

ـ کم: کم بخت، کم اصل او ..

ـ بد :بدبخت، بد فکری او ...

ـ یو: یوسری، یو وزری او ..

ـ نیم: نیم منی، نیم کښنو او ...

پورته مثالونو ته په کتو ویلای شو، چې په ترتیب سره (نا، هم، کم، بد، یو، نیم) کلمه جوړونکي مختاړي دي. هېره دې نه وي، چې په پښتو ژبه کې ځینې نور کلمه جوړونکي مختاړي هم شته. مګر د موضوع د اختصار او لنډون په موخه یې له راوړلو ډډه کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ۲- منځتاړي ـ (Infixes)

منځتاړي هغه ګردانېدونکي مورفيمونه دي، چې دوه نا مقيد (خپلواک) مورفيمونه سره نښلوي او يا هم د ريښې په منځ کې ځای پيدا کوي. په پايله کې يې يوه نوې معنا او يو نوی جوړښت لاسته راځي.

په پښتو ژبه کې زياتره منځتاړي د (ا ـ الف، ما، نا) په شکل ښکاري. لکه: زړه نا زړه، شور ماشور، بېلابېل. په دې بېلګو کې "نا، ما، ا" منځتاړي دي، چې په مرسته يې نوي جوړښتونه او معناوې منځته راغلې دي.

### ۳- وروستاړي ـ (Suffixes)

هغه وندونه يا تاړي دي، چې د کلمو په پای پورې نښلول کېږي او نوي مشتقونه جوړوي. په داسې ډول چې مانا او شکل يې له بنسټيزې کلمې او مورفيم سره فرق کوي.

د بېلګې په توګه ويلای شو د "کليوال" په کلمه کې د "کلي" له کلمې سره د "وال" ورستاړی يو ځای شوی او يو نوی جوړښت يې رامنځته کړی دی، چې هم يې معنا او هم يې شکل توپير وکړ. په شکلي لحاظ له ((کلي))، ((کليوال)) جوړ شو. او معنا يې هم له ((کلي)) چې پر ځای دلالت کوي، ((کليوال)) ته واوښت، چې شخص ترې ښکاري. په پښتو ژبه کې وروستاړي په دوو ډلو وېشل کېږي.

۱- صرفي وروستاړي

۲ـ کلمه جوړونکي وروستاړي

## لومړی ـ صرفي وروستاړي

صرفي وروستاړي هم پر دوو نورو برخو وېشل کېږي: فاعلي او مفعولي وروستاړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**الف ـ فاعلي وروستاړي:** په پښتو ژبه کې په اوس مهال کې ټول فعلونه د جملې لومړي عنصر ته ګردانېږي، چې په دې توګه پنځه ورستاړي لاسته راځي. په لاندې بېلګو کې يې ليدلای شئ!

۱- زه پاڅېږم

۲ـ ته پاڅېږې

۳ـ موږ پاڅېږو

۴ـ تاسې پاڅېږئ

۵ـ هغوی پاڅېږي

پورتنيو مثالونو ته په کتو سره پنځه فاعلي وروستاړي (ام am، ې e، و u، ئ ay او ي i) لاسته راځي. خو د درېيم شخص په مورد کې په تېر مهال کې چې په جمله کې لازمي فعل وي؛ فاعلي وروستاړي د عدد او جنس څرګندونه هم کوي.

په لاندې بېلګو کې يې فاعلي وروستاړي ليدلای شئ.

| مفرد | جمع |
|---|---|
| دی کابل ته لاړه. (a) | دوی کابل ته لاړل (al) |
| دا کابل ته لاړله. (lα) | دوی کابل ته لاړلې (ale) |
| دا کتابل ته لاړه.(α ) | دوی کابل ته لاړې. (e) |

**ب ـ مفعولي وروستاړي:** ښاغلي ش ک پېښوري په خپل کتاب د "پښتو ګرامر په خپله ښه کې" داسې ليکي: "متعدي تېر مهال په پښتو کې د مفعول له مخې تصريفېږي، ځکه دې حالت د نوم په کړون کې هم ستونزه رامنځ ته کړې."

څرنګه چې معتدي فعل په تېر مهال کې د جملې د مفعول سره مطابقت ښيي، نو وروستاړي د تېر مهال لازمي فعل په ډول راځي. لکه پورته عنوان کې چې مو وويل. په دې معنی چې د تېر مهال لازمي فعل په بېلګو کې روستاړي د فاعل له لوري تصريف شوي، يعنې فعلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

خاتمې چې د فاعل له پاره ګردان شوې وي. داسې چې د لومړي او دويم شخص په مورد کې د اوسمهال او تېرمهال روستاړي يو ډول د (ام am، و u، ې e، ئ ay) په بڼه راځي، خو د درېيم شخص په مورد کې روستاړي د (ه - a، ال ـ al، ه ـ lα، لې ـ le) په بڼه راځي.

که چېرې مفعول لومړی شخص مفرد مذکر وي او که مؤنث، نو روستاړی د (ام ـ am) په شکل راځي. که مفعول جمع مذکر وي او که مؤنث، نو روستاړی د (و ـ u) په بڼه راځي. همد راز که چېرې مفعول دويم شخص مذکر وي او که مؤنث، روستاړی د (ې ـ e) په شکل راځي. که مفعول دويم شخص جمع مذکر وي او که مؤنث، روستاړی د (ئ ـ ay) په بڼه واقع کېږي، خو د درېيم شخص په مورد کې که مفعول مفرد مذکر وي؟، روستاړی د / ه ـ a/ زورکې په بڼه او که مفعول مفرد مونث وي، نو روستاړی د / ه ـ α/ په بڼه څرکندېږي. همدارنګه که مفعول جمع مذکر وي د / ال ـ al/ په بڼه که مفعول جمع مونث وي، نو روستاړی د / لې ـ le/ په بڼه ظاهرېږي.

په تېر مهال کې د مفعول له پاره روستاړي په لاندې ډول ظاهرېږي:

| | |
|---|---|
| احمد زه ووهلم/ام am | احمد موږ ووهلو/ و/ u |
| احمد ته ووهلې/ ې e | احمد تاسې ووهلئ/ ئ ay |
| احمد دی وواهه/ ه ـ a | احمد دوی (جمع مذکر) ووهل/ al |
| احمد دا ووهله/ له ـ lα | احمد دوی (جمع مونث) ووهلې/le |

ښاغلي پوهاند دکتور مجاور احمد زيار په "پښتو پښويه" کې د فعل په بحث کې د وګړي يا شخص تر عنوان لاندې داسې ليکلي دي: "چې کړند يا کړی لومړی وګړی (متکلم) دی، دويم وګړی (مخاطب)، يا درېيم وګړی (غايب) دی. د وګړي نښه چې له آره وګړيزه پايله بلل کېږي او په ترخ کې د ګڼې او نورې استازي هم کوي، د کړ وروستۍ برخه جوړوي، لکه: (ام) او (و) په راغلم او راغلو، راځم او راځو .... کې."

يوه ډېره مهمه مسئله په دې برخه کې د جمع وروستاړي دي. اکثرو ګرامر ليکونکو دغه برخه بېخي له پامه غورځولې. د مورفولوژۍ پر ځای يې د فونولوژۍ په برخه کې پرې بحث او خبرې کړي دي. مګر زه فکر کوم، چې د نومونو د جمع وروستاړي (آن، ونه، ي او ...) دې هم دلته د وروستاړو په برخه کې وڅېړل شي. د کلمو د پای غږ ته کتو د جمع وروستاړي اضافه کېږي. ښه ده، چې يو لنډ مرور پرې وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱. هغه نومونه چې په (ا) غږ پای ته رسېدلي وي، مذکر يې په (ګان) او مونث يې په (ګانې او وې) وروستاړو په راوړلو جمع کېږي. لکه:

| مفرد (يوګړی) | جمع (ډېر ګړی) |
|---|---|
| کاکا | کاکاګان |
| ماما | ماماګان |
| نيا | نياګانې/نياوې |
| انا | اناګانې/اناوې |

مګر ځينې نومونونه بيا (يان) په وروستاړي سره هم جمع کېږي. لکه:

| مفرد | جمع |
|---|---|
| ملا | ملايان |

۲. هغه نومونه چې په (زور ـ ه) غږ پای موموي، د (ې) وروستاړي په راوړلو سره په ډېر ګړي اوړي. لکه:

| مفرد | جمع |
|---|---|
| ونه | ونې |
| تخته | تختې |
| لښته | لښتې |
| کتابچه | کتابچې |

۳. هغه نومونه چې په (زورکي ـ ه) غږ پای ته رسېدلي کلمې د (آن او ونه) په وروستاړو سره جمع کېږي. لکه:

| مفرد | جمع |
|---|---|
| لېوه | لېوان |
| تره | ترونه |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| زړه | زړونه |

۴. په اوږد (و ـ o) سره پای ته رسېدلي نومونه د (ګانې) وروستاړي په راوړلو سره په ډېرګړي اوړي. لکه:

| مفرد | جمع |
|---|---|
| زانګو | زانګوګانې |
| بېزو | بېزوګانې |
| پیشو | پېشوګانې |
| ورشو | ورشوګانې |

۵. په څرګند واو (و ـ u) پای ته رسېدلي نومونه د (ګان) په وروستاړي سره له مفرد حالت څخه جمع ته اوړي. لکه:

| مفرد | جمع |
|---|---|
| تالو | تالوګان |
| باړخو | باړخوګان |

۶. که کلمې په اوږده (ې) غږ پای ته رسېدولي نو، په (ګانې او انې) جمع کېږي. لکه

| مفر | جمع |
|---|---|
| ادې | ادې ګانې |
| خواښې | خواښیانې/خواښې ګانې |

۷. پرته له معنوي مونثاتو (خور ـ لور او ...) نور په کانسونټ غږونو پای ته رسېدلي نومونه د (آن او ونه) په ورستاړو سره جمع کېږي. لکه:

| مفرد | جمع |
|---|---|
| دېوال | دېوالونه |
| اوښ | اوښان |

(c) ketabton.com: The Digital Library

۸. په (ی ـ ay) او (و ـ aw) دفتانګ غږونو پای ته رسېدلي نومونه د (ګانې) او (وې) وروستاړي په راوړلو سره ډېرګړی کېږي. لکه:

| مفرد | جمع |
|---|---|
| څپلۍ | څپلۍ ګانې |
| کړکۍ | کړۍ ګانې |
| کټو | کټوې |

۹. په په نرمه (ی) پای ته رسېدلي نومونه د څرګندې (ي) په ورستاړي سره جمع کېږي. لکه:

| مفرد | جمع |
|---|---|
| سړی | سړي |
| منګی | منګي |
| لرګی | لرګي |
| ځلمی | ځلمي |

## دویم ـ کلمه جوړونکي وروستاړي

دا هغه وروستاړي دي، چې له کلمو سره د یو ځای کېدو په صورت کې نوې کلمې جوړوي. په پښتو ژبه کې د کلمه جوړونکو وروستاړو بېلګې ډېرې دي. دلته به یې یوازې له ځینو یادونه وشي.

**الف ـ د نسبت وروستاړي:** چې یو نوم، قام، ځای، زمان، جنس او نورو ته نسبت ورکوي او په لاندې ډول دي:

وال ـ لکه:

ـ پوهنوال

ـ ښارنوال

(c) ketabton.com: The Digital Library

- پکتیاوال
- لیکوال
- بانډه وال

خېل ـ لکه:

- کړو خېل
- بابکرخېل
- سلیمان خېل
- اتمان خېل
- جبارخېل

زی ـ لکه:

- احمدزی
- اڅکزی
- مندوزی
- محمدزی

نی ـ لکه:

- ننی
- اوسنی
- خندنی
- مازیګرنی

ین ـ لکه:

- خاورین
- پرتمین
- وریښمین

ییز ـ لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

-چره ییز

-سیمه ییز

-ګوله ییز

**ب- د مکان او زمان وروستاړي:** د مکان او زمان ورستاړي په مختلفو مواردو کې کارېږي، که زماني وروستاړی له داسې خپلواک مورفیم سره وکارول شي، چې وخت ترې څرګند شي زماني ورستاړی یې بولو. لکه:

-پرونی

-نننی

-سبانی او داسې نور ...

**ج - تصغیري وروستاړی:** چې د اسم په کوچنیتوب او وړوکوالي دلالت وکړي. البته دغه وړوکوالی د مینې، تمسخر او ربښتوني وړوکوالې په خاطر وي. لکه:

- کتابګوټی

- کوچنوټی

-تورک

-غوټکی

په دې بېلګو کې د (ګوټی، ټی، ک، کی) تصغیري وروستاړي دي.

**د - فعلي ورستاړي:** چې د هغه په نښلولو سره فاعلي او مفعولي صفات جوړېږي. لکه:

ګر- لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۔ختېګر

۔بزګر

۔کرګر

۔زرګر

ندوی۔لکه:

۔ساتندوی

۔پوهندوی

۔ګتېندوی

ګړی۔لکه:

۔ژرنده ګړی

۔منځګړی

کښ۔لکه:

۔زیار کښ

۔سرکښ

ونکی۔لکه:

۔وهونکی

۔تلونکی

(c) ketabton.com: The Digital Library

-ماتېدونکی

-غورځېدونکی

هـ ـ د صوت وروستاړي: چې د يوه غږ (صوت) نمايندګي وکړي. لکه:

-تکهار

-غړها

-پشکی

په دې بېلګو کې (هار، ها او کی) صوتي وروستاړي دي.

**يادونه: زما دا ليکنه کوم بل چا د اصلاح په موخه نه ده لوستې او انسان ته خپل عيب سم نه معلومېږي؛ نو که تاسو کومه ستونزه، غلطي او نيمګړتيا وينئ پخپل لطف په لاندې برېښناليک په تماس کې شئ.**

**r.muqamzai@gmail.com**

# له وړاندې مننه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اخځلیکونه


۱. اکرام، بشری. (۲۰۱۸م)، ژبپوهنه. پېښور: پښتو اکېډمي، پېښور یونیورسیټي.

۲. پېښوري، ش ک. (۱۳۹۱ل)، د پښتو ګرامر (پخپله ښه کې). دانش خپرندویه ټولنه.

۳. تړی، حبیب الله. (۱۳۸۹ل). نوې ژبپوهنه او ژبني مسایل. خپرندوی: د ختیزې سیمې لیکوالو او ژورنالیستانو خپلواکه ټولنه.

۴. چمتو، محمد قسیم. (۱۳۹۸ل)، تشریحي ژبپوهنه. کابل: جهان دانش خپرندویه ټولنه.

۵. څولیزی، محمد عثمان. (۱۳۹۹ل)، عمومي ژبپوهنه. کابل: جهان دانش خپرندویه ټولنه.

۶. حسام، علاوالدین. (۱۳۹۸ل). وییپوهنه. جلال آباد: هاشمي خپرندویه ټولنه.

۷. خوېشکی، محمد صابر. (۱۳۹۷ل)، پښتو معاصر ګرامر. کابل: جهان دانش خپرندویه ټولنه.

۸. خوېشکی، محمد صابر. (۱۳۹۸ل)، پښتو غږپوهنه او وییپوهنه. جلال آباد: ختیځ خپرندویه ټولنه.

۹. رښتین، صدیق الله. (۱۳۷۲ل)، پښتو ګرامر (ژباړن – سید محی الدین هاشمي). پېښور: یونیورسټي بُک ایجنسي.

۱۰. رښتین، صدیق الله. (۱۳۹۳ل)، ژبښودنه (پښتو ګرامر). جلال آباد: ګودر کتاب پلورنځی.

۱۱. زیار، مجاور احمد. (۱۳۸۴ل)، پښتو پښویه. دانش خپرندویه ټولنه.

۱۲. شاکر، نور احمد. (۱۳۵۰ل). ژبنۍ څېړنې. د وړمې مجلې د لومړۍ او دویمې ګڼې په بدل چاپ شوی دی.

۱۳. غضنفر، اسدالله. (۱۳۹۷)، د نثر لیکلو هنر. جلال آباد: مومند خپرندویه ټولنه.

۱۴. غضنفر، اسدالله. (۱۳۹۸)، ځراغ. جلال آباد: مومند خپرندویه ټولنه.

۱۵. غوربندی، میراجان. (۱۳۹۹ل)، تاریخي او مقایسوي ژبپوهنه (دویم چاپ). کابل: نویسا خپرندویه ټولنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۶. فهیم، سیلی. (۱۳۹۶ل). د ژبپوهنې بنسټونه (درسي لکچرنوټ). ننګرهار پوهنتون، ادبیاتو پوهنځی.

۱۷. محبوب، محبوب شاه. (۱۳۹۸ل)، پښتو ژبدود. جلال آباد: مومند خپرندویه ټولنه.

۱۸. مرهون، محمود. (۱۳۹۴ل)، د ژبپوهنې بنسټونه. کابل: کائنات څېړنیز او د ژباړې مرکز.

۱۹. هاشمي، سید محی الدین. (۱۳۸۳ل)، د پښتو ژبې لنډ ګرامر. خپرونکی: اریک د ګرځنده کتابتونونو اداره.

۲۰. همکار، محمد ابراهیم. (۱۳۹۸ل)، لیکوالي. جلال آباد: همکار خپرندویه ټولنه.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**